# ښوونځی شروع کول

کله چې یو ماشوم ښپږ کلن شي باید چې ښوونځی ته ولاړ شي. ښوونځی د آگست په میاښت کې شروع کیږي. لمړنی کال چې ماشوم خپل ښوونځی شروع کوي د تیاری ټولګی په نامه یادیږي.

ټول ماشومان چې د تیاری په ټولګی کې شروع کوي دا حق لري چې داسې ښوونځی ته ولاړ شي چې فاصله ئې د کوره څخه حد اکثره دوه کیلومتره لیری وي. که د ماشوم کور ته نږدې ډیر ښوونځیونه وي، هغه وخت ستاسې ماشوم حق لري چې په یو له هغو څلورو ښوونځیو څخه چې د ماشوم کور ته نږدې وي شامل شي.

په اوسنی حالت کې موږ نشو کولای وواېو چې ستاسې ماشوم په کوم ښوونځی کې شروع کوي. دا مسئله د مثال په توګه پدې اړه لري چې څومره شاګردان غواړي په هغه ښوونځی کې شروع کړي چې تاسې هم د خپل ماشوم لپاره غواړئ؛ او په همدې ډول دا چې دا شاګردان چیری استوګنه کوي. کیدای شي چې شاګردانو ته په مختلفو ښوونځیو ځای ورکړ شي.

تاسې کولای شئ چې په هر ښوونځی کې چې تاسې د خپل ماشوم د شامیلدو هیله لری، خپل غوښتنلیک ورکړئ. تاسې کولای په هغو ښوونځیو کې خپل غوښتنلیک ورکړئ چې ستاسې هیله وي.

دا چې تاسې په یو ښوونځی کې د خپل ماشوم د شاملیدو هیله کوئ پدې معنی نده چې ماشوم مو حتماً په هغه ښوونځی کې شامل کیدای شي.

**تاسې کولای شئ چې د جنوری د ۱۵ څخه تر ۱۵ د فبروری پوری د ښوونځی دپاره غوښتنلیک ورکړئ.**

دا په یاد ولرئ چې که ستاسې ماشوم دوه سرپرسته ولري باید چې تاسې دواړه دا غوښتنلیک تصدیق کړئ که نه دا غوښتنلیک د اعتبار وړ ندی.

د نورو معلوماتو د لاسته راوړلو او د غوښتنلیک د ورکولو لپاره دلته مراجعه وکړئ:
www.goteborg.se/onskaskola

که تاسې پوښتنې ولرئ کولای شئ چې زموږ سره تماس ونیسئ:

د ټلیفون شمیره: ۰۳۱ ـ ۳۶۵ ۰۹ ۶۰

د ایمیل پته: grundskola@grundskola.goteborg.se